PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اونیزه

# شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

### درس قرآن

ای مؤمنانو! د الله او د رسول منه وکړئ او وروسته له هغه چې حکم یې واورئ مخ ترې مه اړوئ. او دهغه چا په څیر مه کېږئ چې په خوله یې ویلې مونږ واوریده خو د حقیقت له مخې یې نه اوري. (الانفال: ۱۹ - ۲۱ آیتونه)

### درس حدیث

له جبیر بن مطعم رضی الله عنه نه روایت دی هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چا چې عصبیت (د قومي ربنې کرکې ته) بلنه ورکړه هغه له مونږ څخه نه دی، څوک چې د عصبیت لپاره وجنگېد هغه له مونږ نه، نه دی او څوک چې په عصبیت کې مړ شو هغه له مونږ نه، نه دی. (ابو داود)

شهادت دریم کال، ۳۱ مه گڼه، پرله پسې ۱۳۱ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د لړم ۴ مه د۱۴۳۲ هـ ق د ذوالقعده ۲۹ مه د۲۰۱۱ م د اکتوبر ۲۲ مه

## د ولسمشر په وروستیو څرگندونو امریکا خفه او پاکستان خوشحاله شو

آزادي راډیو:
په داسې حال کې چې د پاکستان له جیو تلویزیون سره د حامد کرزي وروستۍ مرکې په افغانستان او نړۍ کې گڼې پوښتنې راپورته کړي، خو بل پلو د پاکستان ځینې سیاستوال او د چارو کتونکي د نوموړي دغه څرگندونې پرځای او په افغانستان کې د سولې د ټینگښت په لړ کې گټورې بولي.
د پاکستان د پیپلز گوند د یوې څانگې مشر او د دې هیواد د کورنیو چارو پخواني وزیر افتاب احمد خان شیرپاو له ازادي راډیو سره په مرکه کې د کابل او اسلام اباد ترمنځ د ترینگلیو اړیکو او بدبینیو د له منځه وړلو په لړ کې د حامد کرزي څرگندونې وستایلې:
"د پاکستان ولس د کرزي صیب د دې خبرو ډېر تود هرکلی کړی او هم یې په حکومتي کچه یو څه اثرات لیدل کیږي، زنا په نظر د دواړو هیوادونو خیر په دې کې دی چې له یو بل سره د وروروولۍ په فضا کې ژوند وکړي، ښې اړیکې ولري او داسې لارې چارې ولټوي چې په هغې سره په سیمه کې تل پاتې سوله قایمه شي."
نوموړي وویل، افغانان له تیرو څو لسیزو راهیسې پرله پسې جنگونو ډېر ځپلي او اوس د دې وخت دی چې ټول افغاني گوندونه سره یو موټي شي نه دا چې د ولسمشر کرزي دغه څرگندونې دخپلو شخصي مقاصدو او گټو لپاره ناسمې تعبیر کړی:
"دا سمه ده چې ځینې خلک به د کرزي دا څرگندونې ناسمې تعبیروي اود خلکو په ذهنونو کې به ډول ډول شکونه رامنځته کوي خو زما په نظر ددې خبرو مخه باید ونیول شي او حقایق وړاندې کړل شي."
د پاکستان مسلم لیگ ق ډلې

پاتې ۳ مخ

## پیام همدردی حزب اسلامی افغانستان با مردم مسلمان ترکیه

زلزلهٔ شدیدیکه به شدت ۷.۲ ریکتر شهر ارجیس واقع در شرق ترکیه را تکان داد که از اثر آن بیش از دو صد نفر کشته و بیش از هزار نفر زخمی و با ویرانی ده هزار واحد مسکونی انجامید.
حزب اسلامی افغانستان خود را در این مصیبت بزرگ با مردم ترکیه شریک دانسته و از بارگاه خداوند برای فامیل شهدای این حادثه بهشت برین، برای مجروحین شفای عاجل و برای بازماندگان شان صبر جمیل را استدعا مینماید.
(از طرف ریاست حزب اسلامی افغانستان)

## سرنوشت پروسهٔ صلح پس از شهادت استاد ربانی

صفحه سوم

## افغانستان بعد از سال ۲۰۱۴ قادر به پرداخت مصارف نیروهای

کابل، رسانه ها:
قوماندان پیشین نیروهای امریکایی در افغانستان و سفیر قبلی این کشور در کابل، جنرال متقاعد کارل آیکن بیری بالای توانایی نیروهای افغان برای گرفتن مسوولیت های امنیتی کشور شان تا سال ۲۰۱۴، ابراز شک و تردید کرده است.
آیکن بیری می گوید: زمانیکه نیروهای خارجی از افغانستان بیرون شوند، مصارف حکومت افغانستان تنها بالای سکتور امنیتی، سه برابر بیشتر از عواید آن خواهد بود.
شمار زیاد از کارشناسان بالای این نکته شک دارند که آیا نیروهای افغان خواهند توانست تا سال ۲۰۱۴ به پای خود بایستند و به کمک های جامعهء جهانی متکی نباشند.
آیکن بیری که از سال ۲۰۰۹ تا سال ۲۰۱۱ سفیر امریکا در کابل بود، در سخنرانی در پوهنتون ملی آسترالیا گفت: از سال ۲۰۰۲ تا

بقیه در صفحه ۴

## د امریکا پر ضد د افغان طالبانو مبارزه د آزادۍ مبارزه ده "مولانا فضل الرحمن"

پاکستان، رسنۍ:
د پاکستان د جمعیت علمای اسلام گوند مشر مولانا فضل الرحمن پرون په پېښور کې د خپل پلار مولانا مفتي محمود په یاد په یوه غونډه کې وویل چې دوی د افغانستان پر خلکو خپل نظر نه تحمیلوي، "که افغان طالبان د امریکا پر ضد د خپل هیواد د ازادۍ لپاره مبارزه کوي نو دا د دوی خپل کار دی."
ده په عین حال کې وویل چې که په افغانستان کې طالبان د امریکا په وړاندې خپل دریځ بدلوي نو دا هم د دوی خپل کار دی.
فضل الرحمن په پاکستان کې له وسله والې مبارزې سره کلک مخالفت وکړ، وېې ویل دوی له نورو مذهبي گوندونو سره په گډه پرېکړه کړې چې پاکستان اساسي قانون (آیین) لري او له قانون سره سم د خپلو غوښتنو او په هیواد کې د سیاسي بدلون لپاره سوله ییزه مبارزه کوي.
ده یې له دې چې د پاکستاني طالبانو نوم واخلي په دغه هیواد کې تروررونه وغندل او وېې ویل: داسې نښې کېدای چې زه دې مولانا حسن جان شهید بولم او د هغه

پاتې ۴ مخ

## دنمارک ۳.۷ میلیون دالر به افغانستان مساعدت میکند

کابل، پژواک:
کشور دنمارک ۳.۷ میلیون دالر را در بخش های بشری، به افغانستان کمک می کند.
به نقل از خبرنامه ای که رنی دنی سن سفیر کشور دنمارک در افغانستان، گفته است به دلیلی که درافغانستان، تقریباً سه میلیون افغان با کمبود مواد غذایی مواجه می باشند و زمستان نیز فرا میرسد؛ باید اقدامات جدی صورت گیرد.
موصوف افزوده است که از اینرو، کشور دنمارک فیصله نموده تا سازمان غذایی جهان و موسسه حمایت از اطفال را، از طریق ارائه کمک ۳.۷ میلیون دالری خود حمایت نماید.
سفیر دنمارک در کابل با اشاره به اهمیت کمک های بشری برای رفع نیازمندی های

بقیه در صفحه ۴

## پیشرفت ها در ساحه امنیتی افغانستان بیش از انتظار بوده است

کابل، رسانه ها:
یک مقام بلند رتبه نظامی امریکا می گوید، با وجود نگرانی ها در این مورد که با کاهش تعداد سربازان امریکایی در افغانستان امنیت در این کشور، بدتر خواهد شد، اما وضع امنیتی در افغانستان حتی نسبت به انتظار آنها بهتر شده است.
مقام نظامی امریکا که نخواست نامش افشا شود، طی مصاحبه هفته گذشته گفته است در تخمین های قبلی ادارات استخبارات امریکا که در اوایل سال جاری به نشر رسیده بود، انتظار نمی رفت که درجه خشونت تا اخیر سال در افغانستان به این اندازه کمتر شود. به گفته او در راپورهای نو قوای ناتو تحت رهبری ایالات متحده در افغانستان

بقیه در صفحه ۴

## مخابراتو وزارت د سیم بکس ۴ ناقانونه دستگاوې نیولي دي

کابل، رسنۍ:
د مخابراتو وزارت په افغانستان کې له مخابراتي خدماتو څخه د ناوړه گټه اخستنې د مخنیوي لپاره په یو نوي اقدام کې د سیم بکس څلور دستگاه گانې او په سلگونو سیم کارتونه، چې په غیر قانوني توگه په واتونو کې پلورل کیدل نیولي دي.
د مخابراتو وزارت ویره څرگندوي، چې ممکن له دغو سیم بکسونو څخه چې په غیر قانوني توگه یې فعالیت کاوه د هیواد د ملي امنیت په خلاف هم د استفادې زمینه برابره شوې وي.
د دغه وزارت د مخابراتي خدماتو د تنظیم بورډ مرستیال خیر محمد فیضي وایي، چې له دغو سیم بکسونو سره یې دوه بنگلادیشي وگړي هم نیولي، چې اوس مهال تر توقیف لاندې دي.

پاتې ۴ مخ

سید رحمن سالار

## امریکایان بالاخره مات شول

د عراق جگړه به ډېره ژر پای ته ورسېږي او د ۲۰۱۲ میلادي کاله له پیل وړاندې به ټول امریکایي عسکر له عراق څخه ووځي.
دا هغه خبره ده چې د امریکا ولسمشر بارک اوباما پرون په امریکا کې د خبري رسنیو د کمرو پر وړاندې د امریکا او نړۍ خلکو ته وکړه.
په عراق کې د امریکا او نورو لویدیځوالو له خوا د هرډول کیمیاوي او زهرجنو وسلو له کارولو او په دې هېواد کې د قومي او مذهبي لانجو ته له لمن وهلو سره سره، بالاخره امریکا په خپل هغه ناوړه اقدام کې ناکامه شوه، چې په ۲۰۰۱ میلادي کال کې یې پر افغانستان له تېري وروسته داسې وانگیرله چې گواکې د افغانستان په لاندې کولو بریالی شوه او دوه کاله وروسته، یعنې په ۲۰۰۳ میلادي کال کې یې د نړیوالو اصولو پرخلاف د عراق پر مسلمان هېواد د ډول وژوونکو وسلو د کنټرولولو په پلمې سره بریدوکړ او دغه هېواد یې لاندې کړ.
**امریکا د عراق د هضمولو لپاره له هرې وسیلې کار واخیست**
په دې هېواد کې د ملي خپلواکۍ او واکمنۍ په تر پښو لاندې کولوسره، د عراقیانو د شکنجې کولو او د ابو غریب بدنام بند په شمول داسې بندونه جوړ کړل چې د امریکایي عسکرو له خوا اداره کېدل او د پتمنو عراقي مېرمنو په شمول ددغه هېواد په زرگونو کسان پکې ساتل کېدل

(پاتې دویم مخ)

## د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

# اندیشه آقای ایکن بیری برای افغانستان پس از ۲۰۱۴

کارل ایکن بیری سفیر قبلی ایالات متحده امریکا در کابل در حالیکه بر توانایی نیروهای افغان برای گرفتن مسؤولیت های امنیتی کشور شان به نظر شک و تردید نگریسته موارد مالی بودجوی افغانستان را برای پرداخت مصارف نیروهای دفاعی (اردوی ملی و پولیس ملي) ناکافی خوانده است.

این و موارد دیگری که آقای سفیر در رابطه با آن به تبصره پرداخته نه تنها سوالاتی است که ذهن خیلی از افغانها را به خود مصروف نموده که شاید کشورهای همسایه، منطقه و همه آنهائیکه به نحوی در افغانستان حضور نظامی یا منافع اقتصادی دارند و یا آنکه بنام خوف از تروریزم به آن می اندیشند و بی تفاوت نیستند، گویا اذهان جهانی را به خود مشغول ساخته است.

در اینجا سوالی باقی نمی ماند که موارد مالی کشور فقیر چون افغانستان که آقای سفیر پیشبینی کرده برای تمویل و تموین چنین مقابله به مراتب ناکافی است. ولی در حالیکه امریکا، ناتو و متحدان بین المللی اش جنگ پایان ناپذیر را بنام جنگ در برابر تروریزم آغاز کرده اند که اینک ده سال از آن میگذرد مگر این سؤال را به آنها متوجه نمی سازد که نه تنها به حیث یک التزام اخلاقی بلکه مسؤولیت تا زمانیکه افغانستان از تهدید جنگ آغاز شده توسط آنها در برابر این نیروها نجات می یابد و در افغانستان دولت نیرومند به پا می ایستد نیروهای دفاعی افغانستان را تمویل و تقویه نمایند.

در رابطه با ختم عوامل جنگ در افغانستان باید گفت: آنهائیکه راپورهای قتل کشتار را پخش میکنند که چند و چون مخالف مسلح کشته شد و نه تنها با بی تفاوتی که شاید عدهٔ با خوشحالی از آن یادآوری کنند باید به عوامل آن به چشم باز بنگرند و همه عواقب آنرا با عقل کنجکاو سنجش نمایند که نفرت و انزجار که در نتیجهٔ این قتل و کشتارها در میان ملت ما ایجاد میشود آیندهٔ این کشور را به کجا خواهد رساند؟

وسوسه و توطئه دشمنان کشور ما هر چه باشد کدام ظروف و شرایط و چه عواملی یک افغان را به آن وادار میکند که ذلت کری و کوری را بی درنگ استقبال نموده خون هموطن خود را بی رحمانه بریزد در حدیکه به ریختن خون خودش زن، فرزند، عائله و منطقه اش باکی نداشته باشد؟

هر گاه جهت های از کشورهای قدرتمند بیرونی مداخله ای شانرا در تحمیل گماشتگان فاسد، نااهل، بی کفایت و امتیاز طلب بر نظام کشور ما قطع نه نمایند و مهره های آنها با معاشات و امتیازات گزاف مغرورانه با بدرقه کاروانی از موترهای گرانبهای مودل سال با شیشه های سیاه ضد زره بدون نمبر پلیت از پیشروی ملت ما بگذرد و چه بسا که علما، دانشمندان، قهرمانان نجات دهنده این کشور، فرزندان و وارثان شهداء حتی در حدی برهنگی تن و سرو پا و شکم گرسنه در همان جاده روان باشند، نظام مرکب از اینها چگونه میتواند در کشور ما جای پا پیدا کند افسر و سپاه با هر امتیازی باشد با چه انگیزه ای از آن دفاع نماید و با کدام اعتماد و اطمینان برای دفاع از کدام مفاهیم معنوی و تسلط کدام نظام عادل و شامل خود را قربانی کند؟

از آنچه که آقای ایکن بیری تشویش نموده وفادار باقیماندن نیروهای دفاعی افغان است که آیا با دولت مرکزی خواهند ماند یا با افراد با نفوذ مناطق خود شان. قابل یادآوری است که ده سال اخیر تصرفات سودجویانه چه در نظام مرکزی آقای کرزی و چه آنهائیکه به نام زعیم، نماینده، پیشکاره و قوماندان نزد مردم ما از مرجعیت برخوردار بودند برای خود اعتبار باقی نگذاشته اند، و هر گاه موریانهٔ فساد نظام مرکزی را با یک فروپاشی تمام عیار سقوط بدهد، نه برای نیروهای امنیتی و نه سایر کدرهای این کشور مرجعی باقیست که با آن امیدوارانه بنگرند و انتظار خیر داشته باشند و با فروپاشی نظام مرکزی تسلط زورگویان و ملیشه های محلی بر مناطق میتواند نیروهای متلاشی شده را به دور خود به چرخش وادار سازد که در آنصورت تنها قوای قهریه یی مانند طالبان خواهد بود که بتواند دندانهای تیز این آدم خواران مسلط شده بر مقدرات مردم را با انبور غضب و هیبت شکسته و محل امیدواری مظلومان باشند.

حضور نیروهای خارجی جز آنکه نظام حاکم را در برابر مصالح مردم و کشور بی تفاوت در پرورش و تقویهٔ قوای امنیتی و دفاعی بی اعتناء در تصرفات برای آبادانی و اعمار وطن نامستقل سازد، درآمد های داخلی را تلف و کمک ها و قروض خارجی را حیف و میل کند نتیجهٔ ببار نخواهد آورد. و در مقابل فرزندان این وطن را که احساس پاک خدا پرستی و عشق به آزادی وطن را از نیاکان به ارث برده اند تا سرحد عملیات انتحاری به میدان قربانی به مبارزه کشد حاصل دیگری نخواهد داشت.

بجای آن باید از تیم حاکم بر افغانستان باید پرسید که چه چیزی مولانا فضل الرحمن استاد بزرگ طالبان (که طالبان افغانی اکثراً از مدارس زیر رعایت فارغ شده اند و یا چند روزی را در آن سپری نموده اند) به این قانع ساخته است که در سایهٔ آئین پاکستان (قانون اساسی آنکشور) انتظار دردآور تطبیق شریعت اسلامی و آوردن نظام اسلامی را بکشد و ملا محمد عمر و سایر شاگردانش بر آقای حامد کرزی و قانون اساسی تدوین شده در سایهٔ او آنقدر بی باور باشد ...

بقیه در صفحه سوم

# امریکایان بالاخره مات شول

(د لومړۍ مخ پاتې برخه)

او له دې بندیانو سره داسې سپک او ناوړه چلندونه وشول چې د امریکا حیواني ډوله خوی یې د نړۍ عامه افکارو ته په ډاګه کړ او له امله یې په عراق او افغانستان کې د امریکا پرضد مبارزه څوچنده زوروره شوه.

سربېره پردې، په عراق کې چې د امریکایي تیري پر وړاندې د ولس مبارزه سخته شوه، نو امریکایانو په دې هېواد کې د خلکو د ویرولو او د مقاومت د ځپلو او کمزوري کولو په موخه زروي او ضعیف یورانیم لرونکې وسلې هم وکارولې چې ډېرې داډول وسلې د بصرې په سویل او تکریت ښارونو کې وکارول شوې چې ددې وسلو د کارولو له امله په سیمه کې نیمګړي ماشومانو زېږېدنه تر دې کچې زیاته شوه چې د عراق روغتیایي سرچینو له خلکو وغوښتل چې د بچیانو زېږول بند کړي، ځکه د سالمو بچیانو زېږېدو چانس کم دی.

امریکایانو سربېره پردې په عراق کې بله هڅه داوه چې په دې هېواد کې ولسوونه او قومونه په خپلو کې سره وجنګوي او داسې پلانونه یې طرح او پلي کړل چې له مخې یې په جوماتونو کې چاودنې او د اهل سنتواو اهل تشیع مسلمانانو ترمنځ بې باوري او آن په ډېرو برخو کې لانجې او شخړې رامنځ ته شوې، او دا چې دغه کار په عراق کې د امریکا د پوځ د عمومي قوماندان جنرال ډیویډ پټریوس له خوا ترسره او پلي شو او د امریکا په خوښه یې نتیجه هم ورکړه، نو اوباما پټریوس ته اتل لقب ورکړ او هغه یې د خپل یوه وتلي جنرال په توګه افغانستان ته واستاوه تر څو د عراق تجربه په افغانستان کې هم ترسره او پلې کړي، چې پټریوس همداسې وهم کړل او په افغانستان کې یې د خپل ماموریت پرمهال ډېره هڅه وکړه چې ولس په خپلو کې سره وجنګوي او هلته یې له افغانانو څخه څو ډوله ځواکونه جوړ کړل، چې یوډول یې داسې ټوپکیان دي چې د امریکا له خواپېسې ورکول کېږي او د کابل ددولت له ولکې وتلي دي او بل ډول یې د اربکیانو په نوم هغه ټوپکیان دي چې د افغانستان د کورنیو چارو وزارت په چوکاټ کې ځای شوي، خو مسلکي زده کړې او مهارتونه نه لري.

په هرصورت دا یوبېل بحث دی او له دې امله چې موضوع اوږده نه شي اوس به له دې برخې تېرشو او بېرته به راشوو په عراق کې دامریکا ماتې ته.

د امریکا ولسمشر بارک اوباما د خبري رسنیو د کمرو پر وړاندې ادعا وکړه چې امریکایي عسکر په داسې حال کې له عراقه وځي چې له عراقیانو څخه دمتحد او ملاتړي په توګه د هغوی رول ثابت شوی دی.

بنایې د اوباما دا جملې به د هغو امریکایانو لپاره چې په عراق کې یې ۴۴۰۰ عسکر وژل شوي دي یوملهم وي او هغوی ته په زړه پورې وي، خو د هغو عراقیانو لپاره چې د امریکا او د هغوی د ملګرو له خوا یې پر هېواد د نهه کلن پوځي تېري په بهیر کې په لس ګونو زره هېواد وال شهیدان شوي او له دې ډېر ټپیان شوي مهلم نه ګڼل کېږي.

که څه هم چې د امریکا ولسمشر بارک اوباما له عراقه د خپلو عسکرو ایستل د امریکا لپاره یو بریالیتوب او د امریکایي عسکرو لپاره یوه سرلوړي ګڼي، خو دنړۍ عام فکرونه پر دې پوهېږي چې امریکا د عراق د مسلمان ولس د مقاومت له امله او په نړۍ کې د امریکا د څېرې د داغي کېدو له امله دې ته اړه شوې ده چې له دې هېواده په تېتو سترګو ووځي.

له سربېره پردې هغه څه چې د امریکا ولسمشر یې له عراقه د خپلو عسکرو ایستلو ته اړ کړی، د هغو درنو اقتصادي او سیاسي لګښتونو له امله هم دی چې امریکا د افغانستان او عراق د جګړو په لاره اچولو کې ورسره مخ شوې ده،د امریکا دولت یې اړ کړی تر څو د عراق او امریکا د ۲۰۰۸ میلادي کال امنیتي موافقه له کومې پلمې پرته پلې کړي.

### د امریکا دولت له ۱۴ زره میلیارډ ډالرو ډېر پور سره مخ دی

اوباما پوهېږي چې پر نړۍ د پوځي ولکې د پراختیا لپاره د جګړې په لاره اچولو کې د جمهوري غواړو د ۸ کلن دولت چلند، ددې هېواد اقتصادي قدرت لړزانده کړی دی او د یوه نړیوال قدرت په توګه یې د امریکا مقام ته سخت زیان رسولی دی.

د امریکا ډیموکراټان نیت لري چې له دې جګړو څخه په ژغورلو سره په نړیواله کچه د خپل هېواد مقام خوندي کړي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هیلري کلنټن څه موده مخکې د نیویارک په اقتصادي کلب کې په خپله وینا چې وویل چې اوسمهال د امریکا لپاره تر ټولو ستره ننګونه د یوه پوځي دښمن مخنیوی نه دی.

دکلنټن په وینا، په داسې وخت کې چې نور په نړیوال ډګر کې، قدرت په اقتصادي معیارونو سنجول کېږي، امریکا باید د نړۍ په رهبري کولو کې د خپل رول په ساتلو او لوړولو کې، د خپل اقتصادي قدرت پیاوړتیا ته لومړیتوب ورکړي.

بارک اوباماهم له عراقه د امریکایي عسکرو د وتلو د توجیه کولو لپاره ویلي دي چې دولت یې په دې اقدام سره کولای شي چې خپل فعالیتونه د امریکا د اقتصادي وضعیت د ښه کولو لپاره تر پخوا ډېر کړي.

د امریکا د اقتصادي کړکیچ په مدیریت کې د اوباما ناکامی، په امریکا کې د ولسمشرۍ په راتلونکو ټولټاکنو کې د بریالیتوب لپاره د اوباما او د هغه د ګوند رول ډېرسخت کمزوری کړی دی.

اوباما د عراق د جګړې په پای ته رسیدو سره نیت لري چې پر خپلې یوې انتخاباتي ژمنې عمل وکړي او یوځل بیا پرځان د امریکایي رایه ورکوونکو باور ترلاسه کړي.

په دې توګه په عراق کې د امریکا د پوځي شتون پای ته رسول، د امریکا د ولسمشر د ادعاګانو پر خلاف، د بریالیتوب لپاره نه، بلکې د امریکا په ۲۰۱۲ میلادي کال کې په ولسمشریزو ټولټاکنو کې د ډیموکراټانو د وروستیو انتخاباتي ناکامیو د مخنیوي لپاره یو اقدام دی.

په عراق کې د امریکا د ناکامیو داسې پایله اخیستلای شوو چې امریکا په پوځي ډګر کې له شک پرته ناکامه شوې ده، خو دا خبره هم له اټکله لرې نه ده چې امریکا له به خپل عادت سره سم په پوځي برخه کې د خپلې ماتې د جبرانولو لپاره نورو برخو ته لاس واچوي او هڅه به وکړي، چې د پیسو او ګواښونو او آن د چارواکو په ترورولو سره به په دې هېوادونو کې د خپل نفوذ د زیاتېدو او د ګوډاګیو رژیمونو د جوړېدو لپاره هڅې وکړي، خو ددې دواړو هېوادونو په ځانګړې توګه افغان دولت چارواکو ته یوه سپارښتنه داده، دې ته په پام سره چې پر افغانستان د امریکایانو او ناټو د تېري او همدارنګه په دې هېواد کې د ناټو او امریکایانو له خوا د مېرمنو او ماشومانو په شمول د زرګونو هېوادوالو په وژل کېدو کې د تاریخ او افغانانو پر وړاندې دوی پړه او ملامتي هم حتمي ده، نو باید د خپل ځان د سپیناوي لپاره یو کار وکړي، چې له یوې خوا د ولس په خیر تمام شي او له بلې خوا ددوی له غاړې پړه واوړي، نو د افغانستان نیواک ته دې د پای ټکی کېږدي او نور دې له امریکایانو په کلکه وغواړي چې زموږ له هېواده نه یوازې دا چې ووځي بلکې، دلته دې ددوی هرډول شتون یا سټراټېژیکه ملګرتیا ختمه شي او پر امریکایانو دې د تکیې پرځای پرخدای ج او خپل ولس تکیه وکړي.

# سرنوشت پروسهٔ صلح پس از شهادت استاد ربانی

اعزامی

شهادت پروفیسور برهان الدین ربانی رهبر جمعیت اسلامی، رئیس شورای عالی صلح و رئیس جمهور اسبق کشور که طی یک سال گذشته عملاً رهبری و ادارهٔ پروسهٔ مصالحه با مخالفین دولت را بعهده داشت، رویداد تکان دهنده ای است که علاوه از تأثیرات دیگر بر اوضاع و احوال افغانستان، تأثیر خاص خود را بر روند مصالحه ملی و آیندهٔ سیاسی بجا می گذارد. این تأثیر گذاری از آن جهت قابل لمس است که استاد ربانی بقول دوستانش یک اسلام گرای دموکرات بود، یعنی نفوذ و علاقمندی او در میان عناصر و حلقات دموکرات در همان حدی بود که وی برای خود در میان عناصر و حرکت های اسلام گرا جاباز کرده بود. چنانچه استاد ربانی پس از معاهدهٔ بن گاهی بمثابهٔ تکیه گاه اپوزسیون داخل حاکمیت، رهبری جبهه ملی که طیف وسیعی از احزاب و حلقات منتقد دولت را در بر می گرفت، بعهده داشت و زمان دیگر به عنوان یک چهره معتدل و مصلح به پیشنهاد دولت، رهبری پروسه مصالحه ملی با مخالفین دولت را عهده دار گردید. استاد شهید در زمان رهبری جبهه ملی، با انگشت گذاشتن به کمی ها و کاستی های دولت، اسباب رضایت و خورسندی منتقدین قانونی کرزی را فراهم کرده بود، ولی با متلاشی شدن جبهه ملی، دولت در صدد جلب توجه استاد ربانی شد و با تفویض ریاست شورای مشورتی صلح به وی، راه را برای احراز مقام ریاست شورای صلح توسط نامبرده مساعد ساخت و باوجود نارضایتی بعضی ها، طی صدور فرمانی این مقام عملاً به او سپرده شد. در جریان تصدی ریاست شورای صلح، بعضی از ناراضیان دولت، برنامه های اصلاحی دولت را که توسط استاد ربانی اداره می شد، به باد انتقاد گرفتند؛ ولی این بار استاد ربانی با ارائه دلایل شرعی و سیاسی، از پروسهٔ اصلاح و گفتگو با مخالفان مسلح دولت حمایت نموده و ناراضیان پروسه صلح را به تعقل و مدارا دعوت می کرد. با به شهادت رسیدن استاد ربانی توسط قاصدی از جانب طالبان که گویا پیام صلح را به او آورده است، پروسه صلح و مذاکره دولت با مخالفان مسلح عملاً دچار سکتگی شد و چاقوی به اصطلاح مخالفان صلح دسته یافت. آنعده دوستان و همراهان استاد شهید در جریان جهاد و مقاومت که از ابتدا چندان با برنامه صلح توافق نداشتند، پروسه صلح را یک برنامه ناکام دانسته و خصوصاً شهید شدن رئیس شورای صلح را توسط قاصد صلح طالبان، دال بر حقانیت موضع خود دانستند و از دولت تقاضا کردند که این پروسه را منبعد متوقف کند تا در آینده چهره های دیگری قربانی آن نشوند. این فشار ها از یکسو و کم علاقه گی طالبان به صلح مذاکره از سوی دیگر باعث آن گردید که اولیای امور دولت طی نشستی روی این موضوع بحث کردند که با همچو برخوردی از سوی طالبان، آیا ضرورت است که پس از این هم پروسه صلح دنبال گردد؟

آیا طالبان صلاحیت امضای قرارداد صلح را دارند؟ آیا جامعهٔ بین المللی بالاخص شورای امنیت ملل متحد، این شرایط را مساعد می کند که سران مخالفان دولت از مخفیگاه های خویش برون آمده و به عنوان یک طرف قضیه، معاهدهٔ صلح را با دولت امضا کنند؟ آیا حامیان مخالفان دولت به آنها این اجازه را می دهند که بدون خواست و میل آنها، طالبان وارد عرصهٔ صلح و مذاکره شوند؟ و بالاخره آیا مخالفان حاضرند که در حضور نیروهای خارجی و برآورده نشدن سایر پیش شرط های ایشان با دولت مذاکره کنند؟ و بهمین ترتیب خیلی از آیاهای دیگری که تا هنوز نشانه ای برای پاسخ به آن به نظر نمی رسد و هر دو طرف تا هنوز سخت و سفت و بدون انعطاف پذیری بر موضع سابق خود پافشاری می کنند.

دولت افغانستان بخاطر پاسخ گفتن به احساسات و نارضایتی بعضی افراد از پروسه صلح دارد به این برنامه تجدید نظر می کند و شاید با آوردن یک سری تعدیل و اصلاح در روش کار و اینکه طرف مذاکره کننده کی باید باشد، ملاحظات و طرح خود را عنقریب رسماً اعلان کند از جانب دیگر احتمال دارد که طالبان نیز اعلان نمایند که پس از این آنها نیز بجای مذاکره با دولت افغانستان، مستقیماً با جامعه جهانی خصوصاً ایالات متحده امریکا وارد مذاکره می شوند. چنانچه بوساطت آلمان در ماه های گذشته میان نمایندگان هر دو طرف در جرمنی و قطر مذاکراتی صورت گرفت.

بهر حال اینکه مذاکره صلح توسط چه کسانی صورت بگیرد و طرف های مذاکره کی ها باشند و بچه شرایطی و در کجا برگزار شود؟ مربوط به اولیای امور دول ذیعلاقه می شود، ولی آنچه که لازم به تذکر است اینکه بحران افغانستان، راه حل نظامی ندارد و ادامه جنگ به قصد شکست دادن مخالفان در میدان جنگ، قبل از اضمحلال آنها، برای مردم افغانستان و حامیان خارجی دولت تاوان گزافی وارد خواهد کرد.

اگر استاد ربانی واقعاً "شهید صلح" است، و همچنان صلح به گواهی قرآن خیر است، پس باید بدان توصل جست، داعیان و عاشقان صلح بایست بی محابا به این مخالفت ها رسالت ایمانی و دین ملی خود را برای پایان دادن بحران و جنگ ادا کنند و تا سرحد ایثار و از خود گذری در این راه ایستادگی نمایند.

**بقیهٔ سرمقاله ...**

...که جز از راه قربانی خود همراهان فرزندان وطنش راهی دیگری را سراغ نداشته باشد. چرا آقای حامد کرزی و تیم همراهش در طی ده سال نتوانسته است از ملا محمد عمر تا آخرین فرد مخالف را مطمئن سازد که آنها میتوانند بدون استعمال سلاح و در غیاب جنگندگان خارجی از راه چنان آئین که مولانا فضل الرحمن به آن ایمان دارد در افغانستان نیز با مبارزه مسالمت آمیز نظام اسلامی را قایم نماید و رأی مردم مسلمان افغانستان تعیین کننده سرنوشت آنها گردد نه زور، سلاح، ترور و اختناق، و آنها بی آنکه شکار مصالح کشورهایی شده باشند به اهداف مشروع شان نایل گردند.

تا آنجا که به مداخله ای کشورهای همسایه و منطقه تعلق میگیرد ما از سازمان ملل متحد و کشورهای نیرومند جهان که ده سال است در افغانستان خون میدهند و خون می ریزند و خشک و تر را از هم فرق نمی توانند، انتظار داریم به جای دوام حضور نظامی قبل از ترک نمودن افغانستان از راه فشارهای جدی و واقعاً تهدید کننده همسایگان افغانستان را به عدم مداخله در امور داخلی افغانستان متقاعد گردانیده و آنها را وادار سازند جنگ بارقبای منطقوی خود را از طریق ریختاندن خون افغانها جستجو ننموده و مصالح جایز خود را از راه احترام به افغانستان آزاد، آباد، مستقل و متحد با تفاهم با خود افغانها به دست آورند.

**د ولسمشر په وروستیو ...**

مرستیال او پخوانی مشاور وزیر اجمل وزیر هم په دې باور دی چې د کرزي دغه څرګندونې به په سیمه کې د سولې او کرارۍ د رامنځته کیدو په لړ کې ګټورې ثابتې شي:

"کرزي صیب په ډېر حساس وخت کې داسې خبرې کړي چې له یوه مدبر سیاستواله یې تمه کیدی شي، تیره ورځ ماله خپل صدراعظم څخه په دې باب داسې خبرې واورېدې چې ددې مرکې هر کلی یې کاوه او خوښي یې څرګنده کړه نو زما په نظر د دا هرڅه په سیمه کې د سوکالۍ او امنیت رامنځته کیدو په لړ کې یو ښه پرمختګ دی او باید چې وستایل شي."

بل خوا خپله ددې مصاحبې مرکیال سلیم ساپی بیا وایي چې کرزي د خپلو پخوانیو ټولو مرکو په نسبت په دې مرکه کې پاکستان ته په ډېره تنده لهجه سخت اخطارونه ورکړل او په زغرده یې وویل چې ټولې هغه سخت دریځې وسله والې ډلې چې د افغانستان امنیت یې له ګواښ سره مخ کړی په پاکستان کې پناه ځایونه لري:

"حامد کرزي په دې مرکه کې حامد کرزي په ډېر جرات او زور سره پر پاکستان خپلې نیوکې تکرار کړې او په زغرده یې داسې خبرې وکړې چې کیدی شي تر اوسه به یې نه وې کړې. خو ترڅنګ یې پاکستان ته دا پیغام ورکړ چې که تاسې د هند او امریکا په باب د افغانستان په دریځ کې کومې اندېښنې لرئ نو که تاسو چیرته صادقانه له موږ سره همکارې وکړئ نو افغانستان او د افغانستان دولت تر دې حده له تاسو سره دریدو ته حاضر دی."

نوموړی وایي، کرزي په څرګندو ټکیو کې وویل چې که پر پاکستان د کوم بهرني هیواد له لورې حمله کیږي نو افغانان به خپلو پاکستاني ورونو ته په خپله غیږ کې ځای ور کوي نه دا چې د امریکا یا هند پر وړاندې به د پاکستان د دولت وسله وال ملاتړ کوي.

په پېښور کې د وحدت ورځپاڼې مدیر رحمدل شاه وایي حامد کرزي په دې مرکه کې پاکستان ته دومره سخت اخطارونه ورکړي چې په تیرو وختونو کې هیڅکله ندي اوریدل شوي خو زیاتوي چې ولې خلک د نوموړي هغه ټکي نه یادوي او یواځې دا یوه خبره یې راټینګه کړې:

"که سپینه یې درته ووایم نو دواړو خواوو ته ځینې پښتون دښمنه خلک شته چې نه غواړي په دې خاوره کې سوله قایمه شي نو هیڅ افغان باید د هغوی په خبرو ونه غولیږي او هڅه وکړي چې له هرې لارې چې وي په دواړو خواو کې د سولې او پرمختګ لپاره کار وکړي."

د افغانستان جمهور رئیس حامد کرزي د پاکستان جیو تلویزیون سره په یوه مرکه کې وویل چې پر پاکستان د امریکا یا کوم بل هیواد د حملې په صورت کې به افغانستان د پاکستان ترڅنګ ودریږي.

که څه هم دغې خبرې په افغانستان اونړۍ کې ګڼې پوښتنې راپورته کړې او د یوشمیر خلکو پرې نیوکې کړې خو سلیم ساپی چې دا مرکه یې کړې او هم د جمهور رئیس ویاند بیا وایي چې خلکو د نوموړي دغه څرګندونې ناسمې تعبیر کړې ځکه چې د کرزي هدف وسله وال حمایت نه بلکې د پاکستان ولس ته په خپله خاوره کې ځای ور کول و.

# د اسلامي تاریخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(پنځه ویشتمه برخه)

س۴۴۶: د لومړي ټولګي چې جنت داخلیږي هیئت (شکل) به څنګه وي؟

ځ: بخاري، مسلم، أحمد، أبن ماجه او جامع صغیر، د أبو هریره نه روایت کوي، دی (أبو هریرهٔ) وایي: پیغمبر علیه السلام فرمایلي دي: په تحقیق سره لومړۍ ډله چې جنت ته داخلیږي د هغوي شکل به د څوارلسمې سپوږمۍ په شان وي، او د ور پسې ډلي شکل به په اسمان کې د تیزې رڼا والا ستوري په شان وي، دوي به په جنت کې غټ او وړوکي قضا حاجت نه کوي، توکانې به نه تو کوي او ګرینګ به یې نه راځي، ګومنځي به یې د سرو وي، او خولې به یې د مسکو بوي کوي، او سکروټې به یې د عود د لرګیو په شان ښه بوي کوي، میرمنې به یې د غټو سترګو والا حورې وي، اخلاق به یې د یو سړي یعني د دوي د پلار آدم علیه السلام —چې شپیته ګزه لوړ و— په شان وي.

أحمد او ترمیذي او جامع صغیر د أبي سعید نه روایت کوي، دی (أبي سعید) وایي: پیغمبر علیه السلام فرمایلي: لومړۍ ډله چې جنت ته داخلیږي د هغوي شکل به د څوارلسمې سپوږمۍ په شان وي، او د ور پسې ډلي شکل به په اسمان کې د یو ښه رنګ والا ستوري په شان وي، د هر سړي به دوه ښځې وي، او په هرې ښځې به اویا قسمه ګاڼه پرته وي، او د ښایست نه به یې په پنډیو کې ماغزه ښکاریږي.

بخاري، مسلم او جامع صغیر، د أبوهریره نه روایت کوي، دی (أبو هریرهٔ) وایي: پیغمبر علیه السلام فرمایلي: په تحقیق سره لومړۍ ډله چې جنت ته داخلیږي د هغوي شکل به د څوارلسمې سپوږمۍ په شان وي، او د ورپسې ډلې شکل به په اسمان کې د تیزې رڼا والاستوري په شان وي، زړونه به یې دیو سړي په شان وي، ددوی ترمنځ به اختلاف، بدي، کینه او حسد نه وي، د هر سړي لپاره به دوه ښځې وي او د ښاست نه به یې په پنډیو کې د غوښو دننه ماغزه معلومیږي، سهر او بیګا به د الله جل جلاله حمد اوثنا وایي، دوي به په جنت کې نه مریضان کیږي، ګرینګونه به یې نه راځي، توکانې به نه تو کوي، لوښي به یې د سرو او سپینو وي، ګومنځي به یې د سرو وي، او د سکروټو لپاره خس به یې عود وي.

بخاري، مسلم، أحمد، ترمیذي او جامع صغیر، کې روایت دی چې: پیغمبر علیه السلام فرمایلي: لومړۍ ډله چې جنت ته داخلیږي د هغوی شکل به د څوارلسمې سپوږمۍ په شان وي، توکانې به نه تو کوي، ګرینګ به یې نه راځي، قضایي حاجت به په کې نه کوي، لوښي به یې په کې د سرو وي، ګومنځي به یې دسرو او سپینو وي، سکروټې به یې د عود د لرګي وي، خولې به یې د مسکو په شان وي، د هر سړي لپاره به دوه ښځې وي او د ښاست نه به یې په پنډیو کې د غوښو دننه ماغزه معلومیږي، د دوي تر منځ به اختلاف، بدي، کینه او حسد نه وي، زړونه به یې د یو سړي په شان وي.

س۴۴۷: د محمد صلی الله علیه وسلم د امت نه لومړۍ ډله به څوک وي چې جنت ته داخلیږي؟

ځ: حاکم، بیهقي او جامع صغیر د عمرو د څوي رضي الله عنه نه روایت کړی دی وایي چې پیغمبر علیه السلام فرمایلي دي: ایا ته پوهیږې؟ زما د امت نه لومړۍ ډله چې جنت ته داخلیږي هغه مهاجر فقیران دي، د قیامت په ورځ به د جنت دروازې ته راشي، د دروازې ساتونکي به ورته و وایي ایا له تاسي سره حساب شوی دی؟ دوي به و وایي د څه شي حساب راسره کیږي؟ مونږ خو فقط د الله په لاره کې توره ګرزوله تر دې چې مړه شوو، دروازې به ورته خلاصې شي او دوي به په جنت کې څلویښت کاله مخکې له دې نه چې نور خلک ورته داخل شي ویده شي.

س۴۴۸: لومړۍ سنت چې مسلمانان ور باندې د لوي اختر ورځ شروع کوي څه شی دی؟

ځ: په بخاري، مسلم، احمد، ابو داود، نسائي او ترمذي کې د براء رضي الله عنه نه روایت دی، دی وایي: پیغمبر علیه السلام فرمایلي دي: لومړۍ شی چې د لوي اختر ورځ پرې شروع کوو هغه دا چې لمونځ و کړو، بیا د لمانځه نه وروسته حلاله و کړو، که چا دا کار و کړ زمونږ سنت یې پر ځای کړل، او که چا د لوي اختر لمانځه مخکې حلاله و کړه، نو دا فقط غوښه ده خپل اولاد ته یې وړاندې کړه، او د قرباني سره کوم تړاو نه لري. او د براء رضي الله عنه نه په طبراني کې روایت دی وایي: رسول الله فرمایلي: په تحقیق سره د لوی اختر د مناسکو نه لومړۍ دغه لمونځ دی. جامع صغیر هم و ګوره.

س ۴۴۹: الله پاک لومړۍ څه شی پیدا کړی دی؟

ځ: په ابو نعیم، بیهقي او جامع صغیر کې د ابن عباس روایت دی وایي: چې پیغمبر علیه السلام فرمایلي چې الله پاک لومړۍ قلم پیدا کړ، بیا یې ورته وویل چې ټول هغه څه ولیکې چې وي به. په ترمذي کې د عبادهٔ بن صامت نه روایت دی هغه وایي: پیغمبر علیه السلام فرمایلي: په رښتیا چې الله پاک لومړۍ قلم پیدا کړی، بیا یې ورته و ویل ولیکه، قلم و ویل څه ولیکم؟ الله پاک ورته و فرمایل چې قدر و لیکه، څه چې و او څه چې وي به. او د همده نه په ابو داود او جامع صغیر کې روایت دی چې پیغمبر علیه السلام فرمایلي: په رښتیا الله پاک لومړۍ قلم پیدا کړ بیا یې ورته و ویل: ولیکه، قلم و ویل: یا رب څه و لیکم؟ الله پاک ورته وفرمایل: د هر شي اقدار د قیامت د جوړېدو پورې و لیکه، څوک چې ددې نه بغیر په بل شي مړ شو زما نه نه دی.

(نور بیا)

# افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

## د کرزي څرګندونې د واشنګټن پر وروستیو هڅو یوه ناڅاپي ضربه وه




**وال سټریټ ژورنال:**

وال سټریټ ژورنال لیکي: د شنبې په ورځ د ولسمشر کرزي دا خبر چې که د امریکا او پاکستان تر منځ جنګ پیښ شي، افغانستان به د پاکستان ترڅنګ ودریږي، له ولسمشر کرزي سره د اړیکو ښه کولو لپاره د واشنګټن پر وروستیوهڅو یوه ناڅاپي ضربه وه.

ورځپاڼه زیاتوي، د ملي امنیت په چارو کې د ولسمشر کرزي د سلاکار یوه مرسیتال شیدا محمد ابدالي وروسته وویل، چې د ولسمشر خبرې تحریف شوې دي او د افغانستان په پالیسي کې د کوم تغیر څرګندونه نه کوي.

د وال سټریت ژورنال په لیکنه، ولسمشر کرزي او امریکا په څو وروستیو اونیو کې پاکستان تر فشار لاندې کړي وو ترڅو په قبایلي سیمو کې د وسله والو طالبانو چې په افغانستان کې پر نړیوالو ځواکو تر ټولو خطرناکې حملې کوي، د پټو ځایونو مسله یوطرفه کړي.

افغان چارواکو پاکستان، د افغانستان د سولې دعالي شورا د پخواني مشر برهان الدین رباني په قتل کې په لاس درلودو تورن کړی دی. البته، پاکستاني لوري دا تورونه رد کړي دي.

وال سټریټ ژورنال لیکي، ولسمشر کرزي هند ته په خپل وروستي سفر کې له دې هېواد سره چې د پاکستان پخوانی رقیب دی، د ستراتیژیکو همکاریو یو تړون وکړ. په اسلام اباد کې چارواکې دې ته د سیاسي انتقام په سترګه ګوري.

ولسمشر کرزي د شنبې په ورځ جیو ټلویزیون ته په مرکه کې وویل، چې امریکا به هیڅ هېواد ته دا اجازه ورنه کړي چې خپله خوښه پر افغانستان تحمیل کړي. ولسمشر کرزي جیوټلویزیون ته په مرکه کې وویل: افغانستان او پاکستان وروڼه هېوادونه دي، لطفا له هغو لارو او وسایلو چې موږ او تاسې دواړه ځوروي لاس واخلي او راځئ چې یوه نوې همکاري په خپلو کې رامنځ ته کړو.

**ایرو ایشیا ویو:**

د ایرو ایشیا ویو خپروني بیا په افغانستان په خپله وروستی مقاله کې، په کابل کې د هغو دوو فلمونو په خپریدو د بندیز په اړه لیکنه کړې چې په ایران کې جوړ شوی وو.

یوه فلم په ایران کې د نویمې لسیزې په کلونو کې، د افغانانو د مشکو کو قتلونو کیسه شوې وه.

په دې فلم کې ویل شوي وو، چې ایراني عسکرو د هغو شپږ سوه افغانانو په وژلو کې لاس درلود چې په ایران کې یې د سفید سنګ په نوم د ګډوالو په کمپ کې غذایي اعتصاب کړی وو.

دا فلم د ایران جنګي الوتکې ښیي چې له پاسه ددې مهاجرو پر دې کمپ بزې کوي.

د ایرو ایشیا فیو په لیکنه، ایراني مقاماتو کله هم د سفید سنګ د پیښې په اړه خپلواکو تحقیقاتو ته اجازه ورنه کړه نو له دې امله د دې پیښې واقعیت نه شي تاییدولای خو هغه کسان چې له دې پیښې ژوندي وتلي دي، له درد څخه ډکې او ترخې کیسې لري.

د دې فلم جوړونکي صدیق برمک ویلي: دا داستا باید وویل شي خو د ایران چارواکو د دې فلم د خپریدو د مخنیوي لپاره ډیر فشار را وستی دی چې تر یوه حده موثر هم وو.

ایرو ایشایا فیو لیکي، ټاکل شوې وه چې د همسایه په نوم دا فلم د رواني میاشتې په پیل کې په مزار شریف کې د فلمونو په یوه فیستیوال کې خپور شي، خو د ایران قنسولګری دا فلم غیر اسلامی بللی وو او د خپریدو مخنیوی وشو.

خپرونه د صدیق برمک په حواله لیکي: موږ په کابل کې له څو ټلویزیوني خپرونو غوښتنه وکړه چې دا فلم خپور کړي خو په وروستیو شیبو کې یې منفي ځواب راکړ.

### د امریکا پر ضد د افغان طالبانو ...

وژونکي ته دې مجاهد ووایم، داسې نشي کېدای چې زه دې مولانا معراج الدین ته شهید وایم، د هغه په جنازه دې ویر کوم او دهغه قاتل ته دې مجاهد ووایم. داسې نشي کېدای چې په مولانا محمدخان شیراني باندې برید کوونکی دې مجرم هم وي او مجاهد هم. دوی دې په موږ قاتلانه حملې کوي او موږ دې دوی ته مجاهیدین وایو. زموږ ګوند له هغوی سره هیڅ تعلق نه لري. "

مولانا فضل الرحمن، چې یوشمېر پاکستاني ګوندونه یې د آی ایس آی د لاس اله بولي، افغانستان او پاکستان دوه جلا هیوادونه ویلل، ویې ویل: «افغانستان افغانستان دی او پاکستان پاکستان، موږ د افغانستان پر خلکو خپله رایه (نظر) نه شو تپلی، که د افغانستان خلک په خپل هیواد کې د امریکا ضد جګړه کوي، څنګه یې کوي دا د دوی خپل کار او اختیار دی. که په افغانستان کې طالبانو مبارزه کړې نو جمعیت علمای اسلام د افغان طالبانو د تحریک ملاتړ کړی او د هغوی حکومت یې په رسمیت پېژندلی و او نن هم په دې خبره ولاړ دی چې هلته د دوی جنګ د دوی د ازادۍ جنګ دی. "

### افغانستان بعد از سال ۲۰۱۴...

حال در بلند بردن تعداد و توانایی های سربازان اردوی ملی افغانستان پیشرفت شده است، اما با آنهم ایجاد یک نیروی مقاوم امنیتی در افغانستان خیلی گران تمام خواهد شد.

آیکن بیری در ادامهء سخنانش گفت: باور دارد که مصارف نیروهای امنیتی افغان تا سال ۲۰۱۴ به هفت ملیارد دالر می رسد و سوال اینجاست که این پول را کی خواهد پرداخت؟

به گفتهء آیکن بیری، حکومت افغانستان ممکن است تا سال ۲۰۱۴ عواید ملی اش را بین دو تا دونیم ملیارد دالر برساند، بناءً اگر امریکا و یا دیگر هم پیمان های غربی اش پول فراهم نسازند، نیروهای امنیتی افغان بقا نخواهند کرد.

آیکن بیری از نگاه سیاسی نیز بالای اعتماد بر نیروهای امنیتی افغان ابراز نگرانی کرده این سوال را مطرح کرد که آیا این سربازان به حکومت مرکزی وفادار خواهند ماند یا به افراد با نفوذ مناطق شان؟

این جنرال متقاعد امریکایی گفت: هنگام سپردن مسوولیت های امنیتی به نیروهای افغان، چهار موضوع را نیروهای بین المللی مهم می پندارند، حمایت از طالبان و موجودیت پایگاه های شورشیان در پاکستان، توانایی نیروهای افغان برای حفظ امنیت مردم این کشور، ثبات اقتصادی و از بین بردن نیروی فساد اداری در افغانستان.

آیکن بیری افزود: چیز دیگریکه اهمیت زیاد دارد، توانایی حکومت افغانستان در از بین بردن فساد اداریست.

سفیر پیشین ایالات متحدهء آمریکا در کابل، از سوی دیگر روی این نکته تاکید کرد که تا سال ۲۰۱۴ همهء سربازان امریکایی افغانستان را ترک نخواهند کرد، بلکه تعداد چشم گیر نظامیان امریکایی در افغانستان باقی خواهند ماند تا کمک های شان با حکومت این کشور را ادامه بدهند.

### پیشرفت ها در ساحه امنیتی...

معلوم می شود که در این ساحه پیشرفت های چشم گیر حاصل شده است.

او افزود، پیشرفت ها در این ساحه نه تنها اینکه با انتظارات آنها در موافقت می باشد، بلکه بهتر از آن است. به گفته او حملات ماهانه شورشیان که از سال ۲۰۰۵ به بعد هر روز در حال افزایش بود در فصل قبلی جنگ کاهش یافته است. به نظر او دلیل این کاهش تصمیم رییس جمهور اوباما می باشد که در سال ۲۰۰۹ در حدود ۳۳ هزار سرباز دیگر امریکایی را به افغانستان فرستاد.

اما در بین تحلیلگران در مورد تمایل امنیتی در افغانستان شک وجود دارد مخصوصاً بخاطر این که شورشگران افغان هنوز هم در قلمرو پاکستان پناه گاه و جای امن دارند.

گرچه قوای خارجی توانسته اند که در مراکز طالبان در ولایات هلمند و کندهار، امنیت را بهتر بسازند ولی در شرق کشور جایی که به گمان اغلب شبکه حقانی قوی می باشد و بستن راه های کوهستانی بروی افراد آن مشکل است، وضیعت امنیتی نگران کننده تر شده است.

موسسه بنام سیفتی که یک موسسه غیر دولتی تحقیقات امنیتی می باشد و به گروه های خیریه غیر دولتی در ساحه امنیتی مشوره می دهد، می گوید که جنگ در افغانستان کم نشده بلکه به جاهای دیگر انتقال کرده است.

به نوشته خبر گزاری رویترز وزارات دفاع امریکا قرار است تا اخیر هفته گزارش نو خود را در مورد تمایل امنیتی در افغانستان به نشر برساند.

مقام نظامی امریکا می گوید، افزایش تعداد عساکر امریکایی یک دست آورد دیگر هم داشت، یعنی تقویه قوای امنیتی داخلی افغانستان که در فصل قبلی جنگ نقش عمده را علیه طالبان به عهده داشتند. او افزود، این عباره اشتباه خواهد بود اگر گفته شود که قوای امریکا به جنگ داخل شده و شورشیان را به عقب رانده و دوباره محل را ترک کردند. به گفته او امریکا باید بسیار احتیاط کند، زیرا این جنگ است و در جنگ نقش دشمن نباید نادیده گرفته شود.

### دنمارک ۳.۷ میلیون دالر به ...

غذایی میلیون ها افغان، تاکید نموده است که برعلاوهٔ کمک، های بشری، تمرکز قوی بالای اقدامات انکشافی درازمدت نیز باید صورت گیرد.

موصوف با اشاره به هشتمین خشکسالی که بعد از سال ۲۰۰۰ میلادی درافغانستان رخ میدهد، گفته است: این وضعیت نشان میدهد که یگانه راه حل دوامدار این مشکل، انکشاف درازمدت سکتور زراعت درافغانستان می باشد.

در خبرنامه آمده است که کشور دنمارک، دربخش زراعت و پروژه های معیشتی، افغانستان را درسال ۲۰۱۱ تقریباً ۲۰ میلیون دالر کمک می کند.

این درحالی است که به تاریخ ۲۴ میزان، محمد آصف رحیمی وزیر زراعت، مالداری و آبیاری افغانستان گفت که به دلیل کاهش سرمایه گذاری در بخش زراعت افغانستان، حدود ۹ میلیون افغان در فقر زند گی می کنند.

به گفتهٔ وی، طی سه دههٔ اخیر در افغانستان سرمایه گذاری در بخش زراعت، ۴۳ در صد کاهش یافته است.

قابل یادآوری است که درحال حاضر، مناطق شمالی و شمالغربی افغانستان، تحت تاثیر خشکسالی قرار دارد و از سوی دیگر، پاکستان که یکی از کشورهای وارد کنندهٔ موادغذایی به افغانستان است، نیز از سیلاب ها و کمبودغذا در مناطق آسیب دیده، دچارمشکلات می باشد.

### مخابراتو وزارت د سیم بکس ...

ښاغلي فیضي، چې د دوشنبې په ورځ یې په یوه خبري غونډه کې خبرې کولې د نیول شویو دستګاهو د فعالیت په اړه یې د معلوماتو د ورکول په ترڅ کې وویل.

"کومو کسانو، چې په دغو دستګاه ګانو یې کار کاوه دوه بنګلادیشي وګړي دي، چې د پولیسو له خوا نیول شوي دي.

له دغو وسایلو نه په استفادې دا امکان موجود دی، چې د دغو دستګاهو کارکوونکود هیواد د ملي امنیت پر ضد د استفادې لپاره زمینه برابره کړي وي او د دې امکان هم موجود دی، چې له دغو دستګاهو نه په ګټې د هیواد د ملي ګټو او مصالحو په خلاف کار اخستل شوی وي. "

د مخابراتو وزارت په وینا دا لومړی خل نه دی، چې دوی د سیم بکس دستګاه وو د فعالیت په تور بهرني وګړي نیسي بلکې تر دې مخکې څیني ایراني وګړي هم له داسې دستګاه وو څخه د استفادې په جرم نیول شوي وو.

خو د دغه وزارت چارواکي دا شکایت هم لري، چې د دوی د پرله پسې غوښتنو سره سره لا هم د نیول شویو کسانو دوسیې نه دي نهایي شوي.

د مخابراتي خدماتو بورډ مرستیال دا هم وویل، چې د دا ډول دستګاه وو فعالیت نه یوازې امنیتي ستونزې زیږولې شي، بلکې هره ورځ مخابراتي شبکو او دولت ته د زرګونو ډالرو زیان هم اړوي.

په افغانستان کې د مخابراتي اړیکو د غیر قانوني دستګاهو ترڅنګ په واټونو په غیرقانوني ډول د سیم کارټونو خرڅلاو هم یوه اساسي اندیښنه ده.

ښاغلي فیضي وویل، چې د دوی کارکوونکو اوس اوس له دوو زرو زیات داسې سیم کارټونه ټول کړي، چې په واټونو په غیر قانوني توګه پلورل کیدل.

دې د دغو سیم کارټونو امنیتي ګواښونو ته په اشاره وایي:

"که چیرې یو سیم کارټ ثبت او راجسټر نه شي نو د دې امکان شته، چې څیني اختطاف چې ډلې، په منظمو جرمونو کې ښکیل خلک او یا هم د نشه یي توکي کاروباریان ترې د امنیت ضد اهدافو لپاره کار واخلي.

دا ډلې کولی شي، چې په ډیرې اسانی سره دا سیم کارټ ترلاسه کړي، ځکه ثبت او راجسټر کیږي نه او بیه یې هم خورا ارزانه ده. دوی کولی شي له دغو سیم کارټونو نه د څلورویشتو ساعتونو او یا اته څلویښتو ساعتونو لپاره کار واخلي او بیا یې وغورزوي. "

په افغانستان کې د مخابراتي شبکو فعالیتونه په تیرو لسو کلونو کې بې شاري وده او پرمختګ کړی دی، خو له دې سره جوخت له دغو خدماتو د ناوړه ګټه اخستنې لپاره هم زیاتې هلې ځلې شوي.

د کتونکو په وینا په هیواد کې د مخابراتي خدماتو غیرقانوني او ناوړه ګټه اخستنې یو اساسي علت د دغو شبکو نه څارنه ده.

دوی دا هم وایي، چې د څارنې لپاره د یو مناسب سیسټم نه موجودیت د دې سبب شوی، چې د مخابراتي خدماتو کیفیت هم ټیټ شي.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

- د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
- د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
- رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

ډیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com